د اجتماعِ یومِ خواجه غریب نواز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بیان

پهٔ 6 رجب، 1447ھ، 26 دسمبر، کال 2025ء (د جُمعې او د خالي پهٔ مینځنۍ شپه)

# د خواجه حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د قرآن سره محبت

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د عرش د لاندې یوه خزانه
- ... د تِلاوت شوق لرونکے شهزاده
- ... آیا د مزار والا اورې او جواب هم ورکوي...؟
- ... د تِلاوت د شوق قابلِ رَشک اِنعام

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ مِائَةَ مَرَّةٍ تَزَحْزَحَتِ النَّارُ عَنْهُ مَسِيْرَةَ خَمْسِمِائَةِ عَامٍ

ترجمه: چا چې په ما باندې 100 کرته درود شريف ولوستو، هغه به د دوزخ نه د 500 کالو په مزل (يعني فاصلې برابر) لرې کولے شي. (1)

دنیا و آخرت میں جب میں رہوں سلامت
پیارے پڑھوں نہ کیونکر تم پر سلام ہر دم
کیا خوف مجھ کو پیارے نارِ جحیم سے ہو
تم ہو شفیعِ محشر تم پر سلام ہر دم (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. (3)

---

1...بستان الواعظین لابن جوزی، صفحہ:244۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:168۔
3...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ په اَدب به کښينم ❁ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هُم د ذِکر کوونکو ذِکر کولے شي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن شپږم شريف دے. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! نن د برصغير د عظيم عِلمي او روحاني شخصيت، وارثُ النَّبي، عطائے رسول، مُعينُ الدِّين حضرت خواجه حَسَن سِجزِي المَعروف خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د عُرس شريف ورځ ده او مونږ د خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د ذِکر د پاره حاضر يو.

چراغِ انجمنِ اَولیا غریب نواز | امینِ سَطوَتِ خیبر کُشا غریب نواز
گُلِ حدیقۂ حسنین، نورِ چشمِ علی | فدائے سیرتِ خیرُ الوریٰ غریب نواز

مفهوم: اے خواجه غرايب نوازه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ! تاسو د اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم د محفل شمع يئ، تاسو د خيبر فتح کوونکي مولائے کائنات، مولا علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ د بهادرۍ امين يئ، تاسو د اِمامِ حَسَن او اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُما د باغ گُل او د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ د سترګو تور يئ او د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې مئين يئ.

بعضې وخت شيطان وسوسه اچوي، دا څۀ خبره شوه، پکار خو دا دي چې خلقو ته قرآن بيان کړے شي، حديثونه بيان کړے شي، د نمونځ، روژې په باره کښې ووئيلے شي. تاسو بس هر وخت د بندګانو ذِکر شروع کړےوي ❁ کله د غوثِ پاک ذِکر ❁ کله

د خواجه حُضُور 🌸 کله د داتا صاحب 🌸 نو کله د اعلیٰ حضرت.

ورومبۍ خبره خو دا ده چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ قرآن هم بيانوو، حديثونه هم بيانوو، اوس وګورئ چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! چې په بيان کښې به څومره حديثونه وړاندې کولے شي، پاتې شو نـمونځ نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول په ټوله دُنيا کښې، جومات جومات، دکان دکان ته ځي او خلقو ته نـمونځ ښائي. په اوسني وخت کښې کيدے شي چې داسې بَل يو پليټ فارم نۀ وي چرته چې باقاعده نماز کورس کولے شي، ستاسو دعوتِ اِسلامي اَلْحَمْدُلِلّٰه! فيضانِ نماز کورس هم کوي.

باقي پاتې شوه دا خبره چې مونږ د اوليائے کرامو ذِکر ولې کوو؟ په دې باره کښې عرض دے چې مونږ د اوليائے کرامو ذِکر نۀ کوو، مونږ څوک يو د دې اوچتو مرتبو والا ذِکر کوونکي، دا خو د الله پاک کرم دے، د هغۀ عطا ده چې زمونږ په شان ګنهګارانو ته د اوليائے کرامو د ذِکر توفيق راعطا کوي.

## اوس مخلوق فريد فريد کوي

پير مهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د اوچتې مرتبې عالِمِ دِين، سيد او ډير لوئي ولئ کامِل دے، هغوئي به هر کال د بابا فريد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار ته حاضري کوله، يو ځل هغوئي پاکپتن ته تشريف يوړلو نو يو خرابې عقيدې والا کس ترينه پوښتنه اوکړه: تاسو عالِمِ دِين يـۍ، تاسو هم مزارونو له ځۍ؟ پير مهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: زۀ دلته د قرآني آيت تفسير په سترګو د ليدلو د پاره راځم. هغه د خرابې عقيدې والا ترينه په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: د کوم يو آيت تفسير؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک فرمان دے:

فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ
(پاره:2، سورۀ بقره:152)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو ما ياد کړئ، زۀ به تاسو ياد کړم.

بابا فرید رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هٔغه هستي ده، چا چې ټول عمر د **اللّٰه** پاک په ذِکر کولو تیر کړو، اوس زهٔ د دې لیدو د پاره راځم چې واقعي د هغوئي چرچې کیږې ، **هغوئي به د اللّٰه** پاک **ذِکر کولو، اوس مخلوق فرید فرید کوي.** (1)

## د اولیائے کرامو محبت په زړونو کښې اچولے شي

**اللّٰه** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَیَجۡعَلُ لَہُمُ الرَّحۡمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ (پاره:16، سورهٔ مریم:96) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه هٔغه خلق چې ایمان یـې راوړو او نیک اعمال یـې اوکړل، نزدې ده چې رحمان به د هغوئي د پاره محبت پیدا کړي. |

د مسلمانانو څلورم خلیفه، حضرت علي المُرتضیٰ شیر خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د دې آیت مبارک د وضاحت پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائیل: اے علي! څوک چې ایمان راوړي او نیک اعمال کوي، **اللّٰه** پاک د مسلمانانو په زړونو کښې د هغهٔ محبت واچوي، فرښتے هم د هغهٔ سره محبت کوي او د نیکانو خلقو په زړونو کښې هم د هغهٔ عزت اچولے شي. (2)

**په حدیثِ پاک کښې دي:** کله چې څوک بنده د **اللّٰه** پاک محبوب (یعني خوښ) شي نو فرښتو ته هم د هغهٔ سره د محبت کولو حکم کیږي او ثُمَّ یُوۡضَعُ لَہُ الۡقَبُوۡلُ فِی الۡاَرۡضِ بیا په زمکه کښې د هٔغه بنده مقبولیت کیښودے شي (یعني د خلقو زړونه د هغهٔ طرف ته مائل کړے شي). (3)

---

[1] ...مہر منیر، صفحہ:430، 431 خلاصۃً۔

[2] ...نوادر الاصول، الاصل التاسع والخمسون والمائۃ فی المقۃ...الخ، جلد:1، صفحہ:426۔

[3] ...مسلم، کتاب البر والصلۃ والآداب، باب اذا احب اللہ عبدا...الخ، صفحہ:1016، حدیث:2637۔

معلومه شوه چې دا مونږ نهٔ یو چې د اولیائے کرامو ذِکر کوو بلکې دا خو د رَبِّ کریم کرم او مهرباني ده چې زمونږ پهٔ شان خلقو باندې د خپلو محبوبو بندګانو ذِکر پاک کوي.

الله پاک دې خپل دا کرم همیشه پهٔ مونږ باندې قائم ساتي، کاش چې د مرګه پورې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر اوکړو، د صحابهٔ کرامو عَلیهمُ الرّضوَان او د اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم پهٔ ذِکر مو هر وخت ژبه لـمده وي، کاش چې ټول عمر مو د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهِم پهٔ ذِکر کولو تیر شي.

خُدا کا ذِکر کرے، ذِکرِ مصطفٰے نہ کرے | ہمارے منہ میں ہو ایسی زباں خُدا نہ کرے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د قرآن سره محبت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! راځئ چې د شیږمې شریفې پهٔ نسبت سره د خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د ذِکر خیر کولو، د اوریدو سعادت حاصل کړو. نن زمونږه موضوع ده: د خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د قرآن سره محبّت (*Khwaja Huzoor's love for the Quran*). راځئ چې وړومبے یوه ایمان تازه کوونکې واقعه واورو! بیا به د خپل موضوع طرف ته راځو.

## سترګې یې پټې کړې او پهٔ سیند پورې وتلو

حُضُور خواجه غریب نواز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: یو ځل زهٔ د خپل پیر صاحب شیخ عثمان هاروَني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه سره پهٔ سفر باندې ووم، مونږ پهٔ تللو تللو د دجله سیند ته ورسیدو. مونږ پهٔ سیند پورې وتلو خو هلته یوه کشتۍ هم نهٔ وه. تلل هم زر وو. پهٔ ظاهره هیڅ حالت پهٔ نظر نهٔ راتللو.

سُبۡحٰنَ الله! د چا پیر چې کامِل وي نو هغه څنګه پریشانه کیدے شي. خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: زما پیر صاحب شیخ عثمان هاروَني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ما ته وفرمائیل:

سترګې پټې کړه! ما فوراً سترګې پټې کړې. لږ وخت پس يې وفرمائيل: اوس يې وغړوه...!! ما چې سترګې وغړولې نو مونږ په سيند راپورې وتي وو.

*نہ پُوچھ ان خرقہ پوشوں کی، اِرادت ہو تو دیکھ ان کو*

*یدِ بیضا لیے بیٹھے ہیں اپنی آستینوں میں* (1)

**وضاحت:** الله والؤ ته **الله** پاک ځومره ښکلي شانونه عطا کړي دي، که د دې نظاره کول غواړې نو د دوئي بارګاه ته حاضر شه، دا د الله والا د **الله** پاک په عطا سره په خپلو لستوڼو کښې د **الله** پاک د قدرت نظارې ګرځوي (چې **الله** پاک د دوئي په لاسونو کرامتونه ظاهروي).

خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د پير صاحب په خدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! دا څنګه وشو؟ مونږ په سيند څنګه راپورې وتو؟ اوئې فرمائيل: ما 5 کرته **سُورۀ فاتحه** ولوستله او په سيند باندې مې قدم کيښودو او په سيند راپورې وتو. (2)

## د اوليائے کرامو د ښپو کرامت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا د **سُورۀ فاتحه** عظيم الشان برکت او د حُضُور خواجه عثمان هاروَني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه زبردست کرامت دے، د کوم په ذريعه چې هغوئي په منتهونو کښې بغير د کشتۍ نه په سيند پورې وتلو.

اوس به شيطان وسوسه دراچوي چې داسې څنګه کيدے شي؟ حديثِ پاک واورئ! او حديثِ پاک هم د ډير معتبر کتاب **بخاري شريف** دے. حديثِ پاک ډير اوږد دے، زۀ به د موضوع مطابق صرف يوه جمله عرض کووم. **حديثِ قُدسي** دے، **الله** پاک فرمائي: فَاِذَا اَحۡبَبۡتُهٗ

---

[1]... کلیات اقبال، بانگِ درا، صفحہ:130۔

[2]... دلیل العارفین، مجلس ہفتم، صفحہ:40۔

كُنْتُ رِجْلَهُ الَّتِيْ يَمْشِيْ بِهَا يعنې الله پاک فرمائي: کله چې زهٔ يو بنده محبوب جوړکړم نو د هغهٔ ښپې جوړې شم (يعنې د هغهٔ پهٔ ښپو کښې خاص نوراني طاقت کيږدم)، پهٔ کومو چې هغه ګرځي. (1)

يعنې پهٔ ظاهره باندې به خو تاسو ته د عام بنده هم دوه ښپې پهٔ نظر راځي، د وَلِيُّ الله هُم دوه ښپې وي خو عام بنده چې کله ګرځي نو د هغهٔ ښپې پهٔ خاورو باندې ګرځي او وَلِيُّ الله چې کله ګرځي نو د الله پاک د ورکړے شوي خاص نُور پهٔ طاقت باندې ګرځي.

معلومه شوه چې کوم د الله پاک محبوب بندګان دي، رَبِّ کريم د هغوئي لاسونو، خُلو، ژبو او د غوږونو سره سره ښپو ته هم داسې طاقت عطا کړې چې داسې طاقت بل چا ته نهٔ ورکړے کيږي. ځکه که د الله پاک ولي د الله پاک پهٔ کلام لوستلو، د الله پاک پهٔ ورکړے شوي طاقت بغير د کشتۍ نه پهٔ سيند پورې وځي نو پهٔ دې کښې هيڅ د حيرانتيا خبره نشته.

| | |
|---|---|
| کچھ لے کے اُٹھو اہلِ صفا کے در سے | یہ در ہیں قریب مصطفےٰ کے در سے |
| ایماں، یقیں، سکوں، رسالت، توحید | سب کچھ ملتا ہے اولیا کے در سے |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خواجه حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د واقعې نه مونږ ته د **سورهٔ فاتحه** فضيلت هم معلوم شو چې خواجه عثمان هاروَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **سورهٔ فاتحه** تِلاوت کړه او بغير د څهٔ ظاهري سبب نه پهٔ سيند پورې وتو.

دا کرامت اګر که هم د هغوئي حصه وه، البته! د **سورهٔ فاتحه** پهٔ لوستلو د دې برکتونه مونږ ته هم حاصلول پکار دي.

## د سُورهٔ فَاتحه يو څو فائدې او برکتونه

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن

---

1... بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحہ: 1597، حدیث: 6502 ملتقطاً۔

(يعني ټوله سورۀ فاتحه) د قرآنِ کريم د ټولو نه د عظمت والا سُورت دے. [(1)]

په يو حديثِ پاک کښې فرمائي: په ھغه ذات مې دې قَسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے، بے شکه د **سورۀ فاتحه** په شان سُورت نۀ په تورات کښې شته، نۀ په انجيل کښې شته، نۀ په زبور کښې او نۀ د قرآنِ کريم په باقي نورو سورتونو کښې، بے شکه دا **سَبعِ مَثَاني** (يعني بيا بيا لوستلے کيدونکے د 7 آيتونو سورت) دے. [(2)]

## د عرش د لاندې يوه خزانه

د مسلمانانو د څلورم خليفه، امير المُؤمِنِين حضرت علي المُرتضىٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه چې د **سورۀ فاتحه** په باره کښې پوښتنه وشوه نو اوئې فرمائيل: ما ته رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل چې **سورۀ فاتحه** د عرش نه لاندې د يوې خزانې نه نازله کړے شوې. [(3)]

## سورۀ فاتحه شِفا ده

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **هِیَ اُمُّ الْکِتَابِ وَهِیَ شِفَاءٌ مِّنْ كُلِّ دَاءٍ** يعني **سورۀ فاتحه** اُمُّ الکتاب (د قرآنِ مجيد اصل) دے او په دې کښې د هرې بيمارۍ شِفا ده. [(4)]

## په سورۀ فاتحه کښې د هرې مسئلې حل شته

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! **سورۀ فاتحه** د هرې مسئلې حل دے. حضرت

---

[1]... بخاری، کتاب التفسیر، باب وَلَقَدْ آتَیْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي... الخ، صفحہ:1178، حدیث:4703۔

[2]... ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی فضل فاتحۃ الکتاب، صفحہ:669، حدیث:2875۔

[3]... تفسیر در منثور، پارہ:1، سورۂ فاتحہ، جلد:1، صفحہ:16۔

[4]... تفسیر در منثور، پارہ:1، سورۂ فاتحہ، جلد:1، صفحہ:15۔

عطاءَ الله رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د چا چې څۀ حاجت وي، هغه دې د **سورۀ فاتحه** تِلاوت اوکړي، د دې پۀ برکت به يې حاجت پوره شي. [1] علمائے کرام فرمائي: 100 کرته چې **سورۀ فاتحه** ولوستلے شي او کومه دُعا هم اوکړے شي نو قبليږي. [2]

سُبۡحٰنَ اللهِ! څومره اسان حل دے...! چې څۀ مشکل وي، پريشاني وي، تنګدستي وي، څۀ پريشاني راشي، څۀ حاجت پيښ شي، **سورۀ فاتحه** ولولئ، دُعاګانې اوکړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! **الله** پاک به کرم اوکړي او مشکل، پريشاني، تنګدستي به ختمه شي.

**الله** پاک دې مونږ ته پۀ کثرت سره د قرآنِ کريم د تِلاوت او پۀ خاص توګه د **سورۀ فاتحه** د بيا بيا لوستلو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خواجه حُضُور رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د قرآن سره محبت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خواجۀ خواجګان، حُضُور خواجه مُعِين الدين چشتي اجميري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ بے شميره صفتونو کښې يو ډير اهم صفت دا هم دے چې هغوئي به د قرآنِ کريم سره بے حده محبت کولو. د هغوئي عمر 15 کاله وو، کله چې يې والد صاحب د دې دُنيا نه رخصت شو، پۀ وراثت کښې د هغوئي يو باغ او يوه جرنده ورسيدله، خواجه حُضُور رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ باغ خرڅ کړو، جرنده يې هم خرڅه کړه او باقي چې نور کوم سامان وو، ټول يې خرڅ کړو، د هغې پيسې يې پۀ فقيرانو، مسکينانو باندې صدقه کړې او سمرقند ښار ته لاړو او د قرآنِ کريم پۀ حفظ کولو کښې

---

1... تفسیر در منثور، پارہ:1، سورۂ فاتحہ، جلد:1، صفحہ:17۔
2... جنتی زیور، صفحہ:587۔

مصروف شو. (1) د پوره قرآنِ کريم حفظ کولو نه پس هغوئي د ځغه وخت رائج علوم زده کړۀ، پۀ کومو کښې چې د تفسير عِلم هم شامل دے.

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې د خواجه حُضُور رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د قرآنِ کريم سره څنګه محبت دے، هغوئي خپل کور کلے پريښودو، مال او دولت يـې پريښودو، ټول باغ يـې صدقه کړو او پۀ کوم کار کښې مصروف شو؟ د قرآنِ کريم پۀ حفظ کولو او د دې پۀ تفسير لوستلو کښې.

سُبۡحٰنَ الله! کاش چې د خواجه حُضُور رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه پۀ وسيله زمونږ هم د قرآنِ کريم محبت نصيب شي او مونږ هم د قرآنِ کريم د حفظ کولو سعادت حاصل کړو.

## د قرآنِ کريم د حفظ کولو فضيلتونه

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه ليکلي دي: د قرآن کريم حفظ کول (يعني ټول قرآن کريم پۀ يادو يادول) فرضِ کفايه او د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سُنَّت، د تابعينو سُنَّت، د علمائے دِين سُنَّت، افضل ترين مستحب او ډېره ښکلې نيکي ده. د دې دومره فضيلتونه دي چې د شميرلو نه بهر دي. (2) ❁ رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت پۀ ورځ به صاحبِ قرآن راشي، قرآنِ کريم به وائي: اے کريم مالکه! دۀ ته اِنعام ورعطا کړې، صاحبِ قرآن ته به د کرامت تاج عطا کړے شي، قرآنِ کريم به عرض اوکړي: مولیٰ! نور انعام ورعطا کړې، نو صاحبِ قرآن ته به د بزرګۍ والا جامې واغوستلے شي، قرآنِ کريم به عرض اوکړي: اے رَبِّ رحمانه! د دۀ نه راضي شې، **الله** پاک به د ځغه بنده نه راضي شي، (3) بيا به هغۀ ته حکم وشي: قرآن لوله او بره خيژه.

1...اِقْتِبَاسُ الْاَنْوَار، صفحہ:347 ملتقطاً۔

2...فتاوٰی رضویہ، جلد:23، صفحہ:642 تا 644 ملتقطاً۔

3...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی من... الخ، صفحہ:676، حدیث:2915۔

ستا مقام آخري آيت ته نزدې دے کوم چې به تهٔ لوَلې.[(1)] يعنې پهٔ هر آيت باندې به هغهٔ ته يوه درجه اوچت والے عطا کولے شي. ❀ د بُخاري شريف روايت دے، **محبوبِ ذِيشان** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پهٔ تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښائي[(2)] ❀ پهٔ دارمي شريف کښې حديث دے، فرمائي: کله چې فرښتو قرآن واوريدو نو اوئې وئيل: زيرے دے د هُغه اُمت د پاره پهٔ کوم باندې چې قرآن نازل شو، خوشحالي ده د هُغه سينو د پاره کومې چې به دا يادوي او خوشحالي ده د هُغه ژبو د پاره کومې چې به د دې تِلاوت کوي.[(3)]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُ لِله! قرآنِ کريم حفظ کول ډېره اعلیٰ نيکي ده. کوشش اوکړئ چې پخپله قرآنِ کريم حفظ کړئ، روزانه دوه دوه، څلور څلور آيتونه يادوئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! چرته خو به يې مکمل کړئ ❀ که داسې اونکړے شئ نو څهٔ سورتونه ياد کړئ.

پخپله سوچ اوکړئ چې څومره عجيبه خبره ده، مونږه مسلمانان يو، د ډېرو کلونو نه نـمونځونه کوو خو افسوس چې مونږ ته پهٔ نـمونځ کښې د لوستلو د پاره صرف **سُورهٔ اِخلاص** ياد دے. که ډير نهٔ وي نو کـم از کـم ❀ اخري 10 سُورتونه ياد کړئ! ❀ سُورهٔ مُلک ❀ سُورهٔ يسين ❀ سُورهٔ رحمان ياد کړئ! څومره ډير چې يادوئ هم هُغه همره فائده ده. پهٔ حديثِ پاک کښې دي: **پهٔ کومه سينه کښې چې لږ قرآن هم نهٔ وي، هغه د وران کور پهٔ شان ده.**[(4)]

---

1...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، صفحہ:677، حدیث:2914۔
2...بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من تعلم القرآن وعلمہ، صفحہ:1299، حدیث:5027۔
3...سنن دارمی، کتاب فضائل القرآن، باب فی فضل سورۃ طٰہٰ ویٰسین، صفحہ:1035، حدیث:3415۔
4...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، صفحہ:677، حدیث:2713۔

يعني څنګه چې کور په اوسيدونکو باندې ښکلے دے، هم داسې د زړۀ ښکلا قرآنِ کريم دے، په کوم زړۀ کښې چې قرآن نۀ وي، هغه بالکل کنډر دے.

## د تِلاوت شوق لرونکے شهزاده

په زړۀ کښې به خيال راځي چې اوس خو مونږ لوئي شوي يو، اوس مونږ څنګه حفظ کولے شو. وګورئ جذبه لار ښائي . چې انسان محنت کوي نو څۀ څۀ نشي کولے. ايمان تازه کوونکې واقعه واورئ! د ګجرات يو مشهور بادشاه تير شوےدے: **سلطان محمود اَوَّل**، په نهمه صدئ هجرئ کښې په ګجرات (هِند) باندې د هغۀ حکومت وو، يو ځل د **رَمَضَانُ المُبَارَک** 26 شپه وه، سلطان محمود اول د علمائے کرامو په خدمت کښې حاضر وو او د قرآنِ پاک د تِلاوت فضيلتونه بيانيدل، يو عالِم صاحب وفرمائيل: د قيامت په ورځ باندې به نمر رانزدې شي، ټول خلق به پريشانه شي خو کوم ګس چې د قرآنِ کريم حافظ وي، هغه او د هغۀ مور او پلار به د رحمت د نُور په سوري کښې وي، په هغوئي باندې به د نمر ګرمي اثر نۀ کوي. په دې اوريدو سلطان محمود يو سوړ اسويلے اوکړو او اوئې وئيل: افسوس چې زما په ځامنو کښې څوک هم د قرآنِ پاک حافظ نشته، څکه به زۀ دا سعادت حاصل نکړے شم.

په دې مجلس کښې د **سلطان محمود** ځوي **خليل خان** هم موجود وو، د اختر نه پس **خليل خان** بل ښار ته لاړو او قرآنِ کريم حفظ کول يې شروع کړو، **خليل خان** به شپه ورځ محنت کولو، د قرآنِ کريم ښۀ ډير تِلاوت يې کولو، په ښۀ ډير محنت يې د قرآنِ کريم حفظ کولو، د دې پورې چې سترګې يې سرې شوې، ډاکټر ورته ووئيل: د شپې په ويخ پاتې کيدو او د ډير تِلاوت کولو په وجه سترګې سرې شوې دي، لهٰذا د يو څو ورځو د پاره ارام اوکړئ. **خليل خان** د زړۀ د سوخته ووئيل: که سترګې مې سرې شوې دي نو څۀ وشو، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! دا سوروالے به راته په دُنيا او اخرت کښې کاميابي راعطا

کوي، زۀ پۀ خپله زدکړه کښې کمے نشم کولے. اخر د یو کال پورې د شپه ورځ محنت کولو نه پس خلیل خان حافظِ قرآن جوړ شو او راتلونکي کال کښې د خپل والد سلطان محمود خوا له لاړو او اوئې وئیل: سکال به پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د تراویح جَمعه زۀ ورکووم. سلطان ترینه پۀ حیرانتیا پوښتنه اوکړه: تۀ کله حافظ شوې؟ خلیل خان والِد صاحب ته هم هُغه واقعه وریاده کړه او د علمائے کرامو خبرې یې وریادې کړې او اوئې وئیل: بس د هُغه وخت نه ما قرآنِ کریم حفظ کول شروع کړي وو او اوس زۀ حافِظ یم. سلطان محمود خپل قابل ځوي له د تروایح د جَمعې ورکولو اجازت ورکړو، خلیل خان پۀ وړومبۍ شپه پۀ تراویح کښې ټول قرآنِ کریم ختم کړو، سلطان ورپسې شاته ولاړ وو او اوریدلو یې، پۀ وړومبو 16 تراویح کښې خلیل خان 16 ختمونه اوکړل، پۀ شپاړسمه شپه سلطان محمود خپل قابل ځوي سینې ته راجُخت کړو، پۀ تندي باندې یې ښکل کړو او اوئې وئیل: خلیل خانه ستا مننه څنګه اوکړم چې تا زما د پاره د قیامت پۀ ورځ د نمر د ګرمۍ نه د بچ کیدو ذریعه جوړه کړه.

معلومه شوه چې مونږه محنت اوکړو قرآنِ کریم حفظ کول یا یو څو سُورتونه یادول څۀ ګران کار نۀ دے. بس ذِهن جوړ کړئ او همت اوکړئ او د **اللّٰه** پاک نوم واخلئ او د ټول قرآنِ کریم یا د یو څو سورتونو یادول شروع کړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! غیبي ذریعه به جوړه شي.

| | |
|---|---|
| اُٹھ باندھ کمر کیا ڈرتا ہے | پھر دیکھ خُدا کیا کرتا ہے |

## پۀ ماشومانو باندې حفظ اوکړئ!

دغه شان پۀ خپلو بچو باندې هم قرآنِ کریم حفظ کړئ! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي شعبه مدرسة الـمدينه (ګرلز & بوائز) ستاسو د خِدمت د پاره موجوده ده، پۀ ملک او بهر ملکونو کښې پۀ زرګونو مدرسې موجودې دي، اوسه پورې پۀ زرګونو ماشومانو د مدرسة الـمدينه نه د قرآنِ کریم د حفظ او ناظرې تعلیم حاصل کړے دے، تاسو هم

خپل ماشومان پهٔ مدرسة الـمدينه کښې داخِل کړئ! اِنۡ شَآءَالله الۡكَرِيم! د قرآنِ پاک د حافظ د والد کيدو سعادت به مو نصيب شي، که رَبِّ کريم وغوښتل نو د حشر پهٔ ميدان کښې به مو د عزت تاج نصيب شي.

| | |
|---|---|
| سینے میں ہے قرآن کی دولت کا خزانہ | ہیں رب کی امانت کے امیں حافظ قرآں |
| محشر میں عطا ہو گا انھیں اذنِ شفاعت | امت کے مددگار و معیں، حافظ قرآں |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خواجه حُضُور رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د تِلاوت شوق

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! خواجه غريب نواز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه حافظِ قرآن وو، هغوئي به پهٔ هره ورځ او شپه کښې دوه کرته د قرآنِ کريم ختم کولو او د قرآنِ کريم پهٔ هر ختم باندې به غيبي اواز راتللو: اے مُعِينُ الدينه! مونږ ستا د قرآن ختم قبول کړو. (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې زمونږه آقا، د هندوستان راجه، خواجه صاحب رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به د عبادت او رياضت خاص طور د قرآنِ کريم د تِلاوت سره خومره شوق لرلو.

اَللهُ اَكۡبَر! زمونږه آقا، د هندوستان راجه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خو به هره ورځ 2 ځله د قرآنِ کريم ختم کولو او مونږه عاشقانِ خواجه پهٔ پوره مياشت بلکې پهٔ ټول کال کښې يو ځل هم د قرآنِ کريم ختم نهٔ کوؤ؟ دا څنګه عشق او څنګه محبت دے؟ د خواجه غريب نواز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پهٔ نقشِ قدم باندې د تللو سره هره ورځ د قرآنِ کريم د تِلاوت د معمول جوړولو کوشش وکړئ او د دې برکتونه حاصل کړئ، چې پهٔ کور کښې د قرآنِ

[1]... سیر الاقطاب، صفحہ: 101۔

کريم تِلاوت کيږي نو رحمتونه به نازليږي او بلاګانې، افتونه به لرې کيږي. د قرآنِ پاک د تِلاوت د شوق موندلو د پاره درې روايتونه واورئ او هره ورځ د قرآنِ پاک د تِلاوت کولو د پاره تيار شئ!

## د قرآن د تِلاوت فضيلت

(1): د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: قرآن لولئ! بے شکه کوم زړهٔ چې د قرآنِ کريم حافظ وي، **الله** پاک هٔغه زړهٔ له عذاب نهٔ ورکوي.[(1)]

(2): د حضرت اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے، د **الله** پاک محبوب نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله** پاک فرمائي: کوم بنده چې د قرآن د تِلاوت او زما پهٔ ذِکر کښې د مصروفه کيدو پهٔ وجه زما نه څهٔ اونهٔ غوښتلے شي، زهٔ هغهٔ ته د غوښتونکو نه زيات افضل عطا کووم، نور فرمائي: لکه څنګه چې **الله** پاک د خپلو ټولو مخلوقاتو نه افضل دے، داسې د **الله** پاک کلام هم د باقي ټولو کلامونو نه افضل او اعلیٰ دے.[(2)] (3): زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: اَفۡضَلُ عِبَادَۃِ اُمَّتِیۡ قِرَاءَۃُ الۡقُرۡآنِ قرآنِ کريم زما د اُمَّت اَفضل ترين عبادت دے.[(3)]

عبادت میں، ریاضت میں، تِلاوت میں لگا دے دِل

رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرما دے کرم مولیٰ[(4)]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...جامع صغير، صفحه:83، حديث:1340۔
2...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، صفحه:679، حديث:2926۔
3...شُعَبُ الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحه:354، حديث:2022۔
4...وسائل بخشش، صفحه:98-114-102۔

## تهٔ پهٔ بخښلے شوؤ کښې يې...!!

حضرت بابا فرید ګنج شکر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د چا مزار شریف چې پهٔ پاکپتن کښې دے، هغوئي هم ډیر لوئي کامِل وَلي دے، فرمائي: یو ځل زهٔ اجمیر شریف ته حاضر شوم او د حضرت خواجه مُعِینُ الدِّین چشتي اجمیري یعنې د خواجه غریب نواز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د روضې مبارکې سره ایسار شوم، دا د عرفې (9 ذوالحج) شپه وه، ما د مزار پهٔ خوا کښې (د قبلې طرف ته مخ کړو او) نـمونځ مې ادا کړو، بیا چې د نـمونځ نه فارِغ شوم نو هم هلته کیناستم او تِلاوت مې شروع کړو. هلته مې پهٔ ناسته ناسته د 15 پینځلسو سیپارو تِلاوت کړے وو، چې د **سُورهٔ کَهف** یا **سُورهٔ مریَم** تِلاوت مې کولو نو زما نه پهٔ لوستلو کښې غلطي وشوه او یو حرف رانه پاتې شو. ما ته د دې غلطۍ اِحساس نهٔ وو شوے، ما چې وړاندې تِلاوت شروع کړو نو د مزار مبارک نه اواز راغلو: **دا حرف دې پریښودو، بیا یې ولوله!** ما د هغه ځائے نه بیا تِلاوت اوکړو، **بیا اواز راغلو: ښهٔ یې لولې، خَلَفُ الرَّشِید (یعنې ښهٔ ځامن) هم داسې کوي.** بابا فرید رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د دې نه پس ما تِلاوت کولو، کله چې ما تِلاوت مکمل کړو نو ما پهٔ ژړا ژړا دُعاګانې اوکړې، زما سره دا ویره وه چې آه! پته نهٔ لګي چې زهٔ به پهٔ بخښلے شوؤ کښې یم او که نهٔ، د دې ویرې له وجهې ما ژړل چې ناڅاپه د مزار شریف نه اواز راغلو: **مولانا! څوک چې داسې نـمونځ کوي، هغه پهٔ بخښلے شوؤ کښې دے.** (1)

## آیا د مزار والا اوري، جواب ورکوي...؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خواجه غریب نواز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ...!! یقیناً چې اولیائے کرام پهٔ خپلو مزارونو کښې ژوندي دي، مزار ته

1...ہند کے مرشِدِاعظم، صفحہ:133-

حاضریدونڪي وېني، د هغوئي اواز اوري، هغوئي پيژني او د **الله** پاک پهٔ عطا سره د هغوئي مُرادونه هم پوره کوي. ❁ **پهٔ حديثِ پاک کښې دي**، مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوک چې هم د داسې مسلمان ورور د قبر پهٔ خوا تيريږي کوم يـې چې پهٔ دُنيا کښې پيژندلو او سلام اوکړي نو مړے هم هغه پيژني او د سلام جواب ورکوي. (1)

❁ اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غزوهٔ اُحد نه پهٔ واپسۍ باندې د حضرت مُصعَب بن عُمَير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نورو شهيدانو مزارونو ته ودريدو او ارشاد يـې وفرمائيلو: زهٔ ګواهي ورکووم چې تاسو د **الله** پاک پهٔ نزد ژوندي يـئ. (بيا يـې وفرمائيل: اے خلقو!) د دوئي زيارت کوئ او دوئي ته سلام کوئ! پهٔ هغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پهٔ قبضه کښې چې زما ځان دے! **د قيامته پورې چې څوک هم دوئي ته سلام کوي دوئي به د هغوئي د سلام جواب ورکوي.** (2)

## پهٔ قبر کښې د تِلاوت سَعَادت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حُضُور خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قرآنِ کريم سره کمال تړون ته وګورئ! هغوئي پهٔ خپل مزار مبارک کښې دي، بابا فريد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دې دُنيا کښې، د مزار مبارک سره پهٔ خوا کښې ناست دے او تِلاوت کوي، خواجه حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ مزار شريف کښې د دننه اوسيدو باوجود تِلاوت اوري هم او اِصلاح يـې هم کوي.

کاش چې د خواجه حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فيضان مو نصيب شي، زمونږ هم د قرآنِ کريم سره تړون پيدا شي چې پهٔ اودو، پهٔ ويخه، پهٔ ناسته، پهٔ ولاړه بس هُم د قرآنِ پاک

---

[1] ... الاستذکار، کتاب الطہارۃ، باب جامع الوضوء، جلد:1، صفحہ:226، تحت الحدیث:29-

[2] ... معجم اوسط، جلد:3، صفحہ:7، حدیث:3700-

سوچونه وي، اے کاش چې پۀ دُنيا کښې پۀ تِلاوت کولو کولو مو دومره پوخ عادت جوړ شي چې پۀ قبر کښې هم د تِلاوت کولو سعادت رانصيب شي.

## د تِلاوت د شوق قابلِ رشک اِنعام

حضرت ثابت بُنَاني رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه ډېر نيک، پرهيزګاره بنده وو، هغوئي به هميشه د ورځې روژه نيوله او ټوله شپه به يـې عبادت کولو، د حضرت ثابِت بُنَاني رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه د قرآنِ کريم د تِلاوت سره ډېر زيات شوق وو، روزانه به يـې يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو. (1)

د دې پۀ برکت پۀ حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه باندې داسې کرم وشو چې رشک پرې راځي[يعني سرے ورته پسښېږي]. د وفات نه پس د دفن کولو پۀ وخت ناڅاپه يوه خخته ماته شوه او دننه لاړه، خلق چې د خختې د راوچتولو د پاره کله ورښکته شول نو پۀ دې ليدو حيران پاتې شول چې حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پۀ قبر کښې ولاړ دے او نـمونځ کوي. د حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه کور والؤ ته چې کله د دې خبرې پته ولګيده نو شهزادګۍ صاحبې يـې ووئيل: والِدِ محترم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه به مې روزانه دُعا کوله چې يا **اللّٰه** پاکه! که تۀ چا ته د وفات کيدو نه پس پۀ قبر کښې د نـمونځ کولو سعادت عطا کوې نو ما ته هم دا سعادت راعطا کړې. (2) منقول دي: کله چې به هم خلق د حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه د مزار پۀ خوا باندې تيريدل نو د قبر مبارک نه به يـې د قرآنِ کريم د تِلاوت اواز راتللو. (3)

ذہن میلا نہیں ہوتا، بدن میلا نہیں ہوتا | خُدا کے اَوْلیا کا تو کفن میلا نہیں ہوتا

---

1 ...حلیۃ الاولیاء، جلد:2، رقم:2575، صفحہ:364۔
2 ...حلیۃ الاولیاء، جلد:2، رقم:2568، صفحہ:362۔
3 ...حلیۃ الاولیاء، جلد:2، رقم:2583، صفحہ:366۔

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَـمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم د تِلاوت کولو ښهٔ ډير سعادت حاصل کړئ! د حضرت ثابت بناني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ شان پهٔ زړهٔ کښې درد هم ساتئ! څهٔ پته لګي که پهٔ مونږ باندې هم کرم وشي، ځنګه چې د تنهايئ کور قبر ته کوز شو نو د الله پاک د پاک کلام قرآنِ کريم ملګرتيا مو نصيب شي.

## قرآنِ کريم ته کتل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د قرآنِ کريم سره ډير محبت کولو، ورسره ورسره به يې نورو ته هم د قرآنِ کريم سره د محبت کولو درس ورکولو. خواجه بختيار کاکي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د ګل شريف ورځ وه، زهٔ د خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم، هُغه وخت شيخ محمد اَوحَد چشتي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه او نور بزرګان پهٔ خدمت کښې حاضر وو، خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دَرس ورکړو. پهٔ دې کښې يې (د قرآنِ کريم د محبت د ترغيب پهٔ ورکولو) وفرمائيل: قرآنِ کريم ته کتل عبادت دے. کوم بنده چې کلامُ الله (يعني قرآنِ کريم) ته ګوري او د دې تِلاوت کوي نو هغهٔ ته دوه چنده ثواب ورکړے کيږي، يو د قرآنِ کريم د لوستلو او دويم قرآنِ کريم ته د کتلو. (1)

## قرآنِ کريم ته د کتلو 3 برکتونه

خواجه غريب نواز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نور وفرمائيل: کوم کَس چې قرآنِ کريم ته ګوري ❁ د الله پاک پهٔ فضل او کرم سره د هغهٔ د سترګو نظر زياتيږي او ❁ د هغهٔ سترګې چرې هم نهٔ خوږيږي ❁ نهٔ وَچيږي.

يو ځل يو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه تشريف فرما وو، مخامخ يې قرآنِ کريم ايښودے وو،

---

1 ...ہشت بہشت، دليل العارفين، صفحہ:20۔

پهٔ دې کښې يو نابينا ګس حاضر شو، هغهٔ عرض اوکړو: ما ډېر عِلاج اوکړو خو زما سترګې ټيک نهٔ شوې، تاسو يـې راله دَم کړئ! هغه بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه قبلې ته مخ کړو، فاتحه شريف يـې ولوستله، بيا يـې قرآنِ کريم را واخستو او د هغهٔ د دواړو سترګو سره يـې ولګولو، بس چې څنګه يـې قرآنِ کريم د سترګو سره ولګيدو، د دې پهٔ برکت د هغهٔ د دواړو سترګو نظر راغلو. (1)

## د عزت په نظر د کتلو برکت

دې لړ کښې خواجه حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يوه بَله واقعه بيان کړه او اوئې فرمائيل: يو ډېر ګنهګار ګس وو، د هغهٔ د ګناهونو پهٔ وجه خلقو د هغهٔ نه نفرت کولو، نصيحت کوونکـو به هغهٔ ته ډېر نصيحت کولو خو هغهٔ به ګناه نهٔ پريښوده، اخِر هغه هم پهٔ دغسې حالت کښې مړ شو، د مرګ نه پس چا هغه پهٔ خوب کښې وليدو چې پهٔ سر يـې تاج پروت دے، جنّتي جامې يـې اغوستې دي او د فرښتو سره د جنّت طرف ته روان دے. خوب ليدونکـي ترينه پوښتنه اوکړه: تهٔ خو ډېر ګنهګار وې، دا سعادت دې څنګه نصيب شو؟ جواب يـې ورکړو: پهٔ دُنيا کښې زما نه يوه نيکي شوې وه، هغه دا چې پهٔ کوم ځائے کښې به مې قرآنِ کريم ليدلو، ودريدم به او ډېر د عزّت پهٔ نظر به مې ورته کتل، بس د دې نيکۍ پهٔ برکت **الله** پاک زهٔ اوبخښلم. (2)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د **الله** پاک د پاک کلام قرآنِ کريم...!! کاش! چې مونږه د دې عظيمُ الشَّان کتاب قرآنِ کريم قدر اوکړو، قرآنِ کريم ته کتل هم عِبَادت دے، دې له لاس وروړل هم عبادت دے، دا لوستل هم عبادت دے او سُبۡحٰنَ الله! څنګه

---

1...ہشت بہشت، دلیل العارفین، صفحہ:21۔
2...ہشت بہشت، دلیل العارفین، صفحہ:21۔

عبادت دے؟ د اللّٰه پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د قرآنِ کريم په يو حرف لوستلو باندې 10 نيکۍ میلاؤیږي. (1)

په يو حديث شريف کښې دي: اَفْضَلُ عِبَادَةِ اُمَّتِیْ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ قرآنِ کريم لوستل زما د اُمَّت افضل ترين عبادت دے. (2)

## په رجب شريف کښې لوستلے کیدونکې دُعا

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رجب شريف مياشت راغلې ده، رجب ډیره د برکت او د عزت او حرمت والا مياشت ده، جنتي صحابي حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د رجب شريف مياشت چې به راتلله نو د اللّٰه پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا کوله:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

ترجمه: اے اللّٰه پاکه! ته زمونږ د پاره په رجب او شعبان کښې برکتونه عطا کړې او مونږ رمضان ته ورسوې. (3)

راځئ چې مونږ هم دا دُعا ولولو:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: د خوږ مصطفٰے (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د دې دُعا

---

1... مسندِ رویانی، جلد:1، صفحہ:397، حدیث:605۔

2... شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحہ:354، حدیث:2022۔

3... مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحہ:117، حدیث:6496۔

مطلب دا دے چې اے **الله** پاکه! په رجب کښې زمونږ په عبادتونو کښې برکت واچوې او په شعبان کښې خشوع و خضوع راعطا کړې او د رمضان مونډل، په دې کښې روژې نيول او د شپې عبادت کول رانصيب کړې. (1)

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولا
بَراءَت دے عذابِ قبر سے، نارِ جہنّم سے
مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولا
عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دِل
رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرمادے کرم مولا(2)

## د تخم کرلو میاشت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **رَجَب شريف** د مبارکې مياشت برکتونه جاري دي، دا د نيکو مياشت ده. په دې کښې ډېر عبادت وکړئ! ۞د **نفل روژو** اهتمام وکړئ، د **حديثِ پاک** مطابق د **رَجَب** د اولنئ ورځې روژه د **3 کالو**، د دويمې ورځې روژه د **2 کالو** او د درېمې ورځې روژه د **يو کال کفاره** ده، بيا د هرې ورځې روژه د **يوې مياشتې کفاره** ده. (3)

نو ځکه تادي وکړئ! د **رمضان** انتظار مه کوئ! د نن او همدا اوس نه نېکئ کول شروع کړئ! **صُوفيائے کرام** فرمائي: **رَجَب د تخم کرلو مياشت ده، شعبان د اوبه ورکولو او رَمضان شريف د فصل رېبلو مياشت ده.**

1...مراۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:330 بتغیر۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:98۔
3...جامع صغير، صفحه:312311، حديث:5051۔

يعني په رَجَب کښې په نفلونو کښې ډېر کوشش کوئ! په شعبان کښې په خپلو ګناهونو اوښکې تويوئ او په رَمضان کښې الله پاک راضي کړئ او دا پټے په خير سره ورېږئ! (1)

| | |
|---|---|
| میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولا |
| بَراءَت دے عذابِ قبر سے، نارِ جہنّم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولا |
| عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگا دے دِل | رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرمادے کرم مولا (2) |

## د پيشمني د اجتماعاتو ترغيب

خوېږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې د رَجَب شريف په مبارکو ورځو کښې په ځانګړې ډول د نفل روژو نيولو ذهن ورکول کيږي. ډېر اسلامي وروڼه او اسلامي خويندې په دې مبارکه مياشت کښې د نفل روژو نيولو اهتمام کوي، او د دې سره سره د يوسي (UC) په کچه د سحري [پيشمني] اجتماعاتو اهتمام هم کيږي.

په دې اجتماعاتو کښې د تَهجُّد نمونځ ادا کولو اهتمام هم کيږي. د تهجد د نمونځ ډېر لوئې شان دے د فرض نمونځونو نه وروسته د ټولو نه غوره نمونځ د تهجدو نمونځ دے. (3) آخري نبي، مکي مدني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

"آيا زۀ تاسو ته د خير دروازې ونه ښايم؟" بيا يې وفرمائيل: (1): روژه ډال دے. (2): صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي. او (3): د بنده په

---

1...مراۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:330 بتغیر۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:98۔

3...مسلم، کتاب الصیام، باب فضل صوم المحرم، صفحہ:424، حدیث:1163۔

نیمه شپه کښې قیام کول (یعنې د تهجدو نمونځ کول د خیر دروازه ده). (1)

ټولو اسلامي وروڼو ته خواست دے چې په **سحري [یعني پیشمني] اجتماعاتو** کښې هم ګډون وکړئ او د نفل روژو نیولو کوشش هم وکړئ. که کولے شئ د **رَجَب شریف** د روژو په تحریک کښې شامل شئ. په دې مبارکه میاشت کښې چې کوم اسلامي ورور یا خور ❀ 7 **روژې** ونیسي هغه Best (ډېر غوره) دے. ❀ که 4 **روژې** ونیسي هغه Better (غوره) دے. او ❀ که 2 **روژې** ونیسي هغه Good (یعنې ښهٔ) دے.

همت وکړئ! نیت وکړئ! تاسو هم د دې تحریک برخه جوړ شئ! **الله** پاک دې مونږ ته د عمل توفیق راکړي. اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دعوتِ اسلامي او د قرآن خدمت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دعوتِ اسلامي د اولیاؤ فیضان دے. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! دعوتِ اسلامي د **الله** پاک د نیکانو بندګانو په نقشِ قدم باندې تللو سره د قرآن خدمت کولو او د قرآن تعلیماتو عام کولو کښې مصروفِ عمل دے. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ!

❀ **د قرآن د خدمت** په لړ کښې یې تر اوسه زرګونه **مدارسُ المدینه** (د هلکانو او جینکو د پاره) په ملک کښې دننه او بهر جوړې کړې دي، چې پکښې په لکونو ماشومان فی سبیلِ الله د قرآن د ناظرې او حفظ تعلیم حاصلوی.

❀ په زرګونو ځایونو کښې **مدارسُ المدینه** (د بالغانو د پاره) لګول کیږي، چې پکښې د زیات عمر اسلامي وروڼه او خویندې د قرآن کریم د تعلیم حاصلولو سعادت حاصلوي. ❀ د مکتبۃُالمدینه په ذریعه تر اوسه پورې **مدني قاعده، د قرآن ترجمه کنزالایمان مع خزائن العرفان،**

---

1 ... سنن ابن ماجه، کتاب الفتن، باب کف اللسان فی الفتن، صفحه:640، حدیث:3973۔

تفسیر صِراطُ الجنان یعني صرف د قرآنِ کریم په لړ کښې د یو درځن نه زیات کتابونه د لکونو او زرګونو په شمیره کښې چاپ شوي دي.❁ د **مدني چینل** په ذریعه صرف قرآن کریم پوهولو او پوهېدلو باندې مشتملې د 15 نه زیاتې لړۍ (سلسلے) نشر شوې دي. ❁ د **مساجدو د امامانو د شعبې** لاندې د جُمعې په اجتماعاتو کښې د قرآني بیاناتو سلسله جاري ده. ❁ د **کورسونو د شعبې** تر لاندې **مدرس کورس، مدني قاعده کورس** او د دې نه علاوه نور ډېر کورسونه د قرآن د پوهې حاصلولو د پاره کیږي. ❁همدا رنګه مختلف **اپلیکېشنونه** لکه **مدني قاعده، القرآن الکریم، قرآن مع تفسیر، قرآن ټیچر** وغیره هم جاري کړے شوي دي.

**اللّٰه** پاک دې د دعوتِ اسلامي په دیني کارونو کښې نور برکتونه واچوي.

آمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم۔

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچّہ بچّہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د رجب میاشت جاري ده، د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک په انتظار کولو هم د نن نه د قرآنِ کریم تِلاوت شروع کړئ! عبادت ته ملا کلکه وتړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک د راتلو پورې به مو زړۀ صفا شوے وي، بیا به د روژو د نیولو خوند څۀ بل شان وي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د صحیح اِسلامي عقیدو د زده کولو، د خوږ آقا و مولا،

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق باندې د زړۀ منور کولو، د صحابۀ کرامو او اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د محبت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره تړون ساتئ او پۀ 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دین او دنیا بے شمیره خیرونه درنصیب شي. پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع هم ده.

**تاسو ته خواست دے** دے چې پۀ هفته واره اجتماع کښې پۀ پابندۍ سره شرکت کوئ! ❀پۀ دیني اجتماع کښې د کیناستو او د ذِکر کوونکو خو به خپل خومره ښکلے شان وي! د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي پۀ خوا کښې کښیني، هغه هم محرومه نه پاتې کیږي(1) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ هفته واره اجتماع کښې ذِکر کیږي ❀ عِلم دِین زده کیږي ❀ پۀ نیک صحبت کښې کښیناستل او ❀ پۀ جومات کښې وخت تیرول نصیب کیږي ❀ یو اهم برکت دا چې د دیني اجتماع د پاره تلل هم د **الله** پاک پۀ لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره اجتماع ته تشریف راوړئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې به ټول وخت د **الله** پاک پۀ لار کښې شمیرلے کیږي ❀ د هر زیارت پۀ ورځ پۀ پابندۍ سره پۀ **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو پوخ نیت اوکړئ! راځئ چې د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلے واورو:

## پۀ اِجتماع کښې د شرکت کولو خوارۀ

د یو اِسلامي ورور د خط خلاصه ده چې زما تعلق د بد مذهبي کورنۍ سره وو. د دعوتِ اِسلامي سره د تړون سعادت مې څۀ داسې نصیب شو چې یو ځل د دعوتِ اِسلامي والا د یو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره مې ملاقات وشو. هغه ما ته پۀ هفته واره

---

1... مسلم، کتاب الذکر والدعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حدیث:2689 خلاصةً۔

د سُنَّتو اِجتماع کښې د شرکت کولو دعوت راکړو کوم چې ما په نهٔ زړهٔ قبول کړو. چې کله ما پهٔ اِجتماع کښې شرکت اوکړو نو هلته د سوز نه ډکو او ژړيدونکو دعاګانو زما پهٔ زړهٔ کښې انقلاب راوستو، د کومې پهٔ وجه چې زما د زړهٔ سکون نصيب شو. بس بيا خو پهٔ اجتماع کښې شرکت کول زما معمول جوړ شو. کور والؤ ته مې چې معلومه شوه نو هغوئي زما پهٔ لاره کښې خنډان [يعني رکاوټونه] جوړول شروع کړل. د الله پاک پهٔ راعطا کړے شوي توفيق به زهٔ پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه اجتماع ته تلم. بيا زما د نيکو کولو جذبه ورځ پهٔ ورځ زياتيدله. زما پهٔ اخلاقو کښې بهتري شروع شوه، کور والؤ چې کله زما پهٔ اخلاقو او کردار کښې پيدا شوے بدلون وليدو نو پهٔ ورو ورو هغوئي هم نرمي شروع کړه. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د اجتماع پهٔ برکت سره د ښو عقيدو د اختيارولو، پهٔ سر باندې د عمامې تاج پهٔ سر کولو او د سُنَّت مطابق د ګيرې پريښودو سعادت مې نصيب شو.

تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول
سلامت رہے یا خدا دینی ماحول
بچے بد نظر سے سدا دینی ماحول

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فتاویٰ رضويه موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، اوس اوس يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: فتاویٰ رضويه (***Fatawa Razwia***) ❁ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د فتاویٰ رضويه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد د لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل کړے شوے دے ❁ د فتاویٰ رضويه ټولې رسالې (کومې چې د اعلیٰ رَحۡمَةُ اللهِ

عَلَيْه نه د پوښتلے شوو سوالونو په جوابونو کښې ليکلې شوې وې د هغې) بيل فهرست هم موجود دے ❀ په ايپلي کيشن کښې ډير ښکلے فيچر د ايډوانس سرچ ( **_Advanced Search_**) دے، د کوم په ذريعه چې د خپلې خوښې خبره په اسانۍ سره سرچ کيدے شي، په يو خاص جلد يا خاص رساله کښې هم د سرچ کولو سهولت موجود دے ❀ په جلد منتخب کولو په هغې کښې د خپلې خوښې صفحې (**_Page_**) ته تللے شئ ❀ د لفظونو فونټ سائز (**_Font Size_**) هم په خپله خوښه ايډجسټ کولے شئ ❀ په ايپلي کيشن کښې د خپلې خوښې خبره په نوټس (**_Notes_**) فيچر کښې ليکلے او محفوظ کيدے هم شي او شيئر (**_Share_**) کيدے هم شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يو څو ضروري اعلانونه واورئ، د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس(تقريباً 8 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ

❀ د سلسله عاليه چشتيه عظيم مشر، سلطانُ الهند خواجه غريب نواز رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په نوراني سيرت اور حيرانوونکو کراماتو باندې مشتمل ايمان تازه کوونکې رسالې، کومې چې مکتبةُ المدينه چاپ کړې دي لکه (1): خوفناک جادوگر (2): کراماتِ خواجہ (3): فيضانِ

خواجه غریب نواز (4): فیضانِ غریب نواز۔

په دې رسالو کښې تاسو د خواجه صاحب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د مبارَک سیرت او د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِعَلَیۡہ د اِسلام د پاره کړو خدماتو په باره کښې معلومات حاصلولے شئ.

دا رسالې د مکتبةُ المدینه د هرې څانګې نه قیمتاً حاصلې کړئ، پخپله یې هُم مُطالَعَه وکړئ او نورو ته یې هُم په تحفه کښې وړاندې کړئ.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي. (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآنِ پاک تِلاوت کول سُنَّت عمل دے

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: (1): زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تِلاوت دے. (2)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د قرآنِ کریم تِلاوت کول سُنَّت عمل دے. زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په کثرت سره د قرآنِ کریم تِلاوت کولو ❁ حضرت عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي: یو څیز به هم خوږ آقا و

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2... شُعَبُ الْاِیمان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004۔

مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تِلاوت کولو نه نهٔ منع کولو ❁ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شپې پهٔ نـمونځ کښې کله د ټول سُورهٔ بقره او د سُورهٔ آلِ عمران تِلاوت کولو ❁ هره شپه به يـې د سُوْرَۃ سجده، سُورهٔ مُلک، سُوْرَۃ بنی اسرائيل، سُوْرَۃ زُمَر، سُوْرَۃ کافرون، سُوْرَۃ فَلق او سُوْرَۃ نَاس تِلاوت کولو او بيا به اودهٔ کيدلو.

الله پاک دې مونږ ته هم ښه ډير د قرآنِ پاک د تِلاوت کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تِلاوت کا
شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

مانگو آ کر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو
ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد